# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Ideological | مسائل ایدئولوژیک |
|---|---|

دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردګ
۱۴ مارچ ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۲۱

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

### څلویښتمه مسئله

داده: چی دحلال کسب کول دضرورت په وخت فریضه وګڼی. قوله تعالی عزّوجلّ: اِلَیکَ بِجِذعِ النّخِلةِ اوبل ځای وایی: وَجَعَلناَ النَّهَارَ معَاشاً. اودځینی فقهاو په نظرکسب کول سنت دی. اوکسب نه کول اوهغی ته پام نکول، هوا اوبدعت دی. اوروزی له کسب څخه ګڼل کفردی. روزی باید له خدایه وګڼو. قوله تعالی: الله الَّذِی خَلَقَکُم ثُمَّ رَزّقَکُم. پوه شه چی روزی له کسب کولو څخه نه زیاتیږی اودکسب نه کولو څخه نه کمیږی. اوحق تعال روزی ورکوی هرنیک اوبد ته، له همدی کبله ددوی دبدیو په وجه روزی نه کموی اودنیکانو روزی ددوی په نیکی سره نه ډیروی. ځکه روزی تقدیر شوی اوقسم یی یاد کړی. قوله تعالی عزّوجلّ: فَوَرَبَّ السَّمآءِ وَالْاَرضِ اَنَّهُ لَحَقٌّ مِثلِ مَا اَنَّکُم تَنطِقونَ.
اوبل ځای فرمایی: وَاِن مِن شَیئٍ اِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُ وَمَا نُنَزِّلَهُ اِلاّ بِقَدَرٍ معلُوم. اوبل ځای فرمایی قوله تعالی عزّوجلّ: وَبَارَکَ فِیهآَ وَقَدَّرَ فِیهَا اَقواتِهآ فِی اَربَعَةِ اَیَّامٍ سَواءَ لِلسَّائِلِین. اوبل ځای فرمایی: اِنَّ اللهَ هُوَ الرَّزاقُ ذُوالْقُوَّةِ الْمَتِین.
اوځینی وایی: حق تعالی کسب وفرمایه، ترڅوبنده په فساد بوخت نشی. اوحق تعالی تندرست فارغ دښمن ګڼی. چی نه ددی جهان کارکوی اونه دهغی جهان. پس همدومره بس دی هوښیارلره.

### یوڅلویښتمه مسئله

داده: چی پوه شی چی عمل له ایمان څخه ندی، اوایمان طاعت دی اونه هرطاعت ایمان دی. څرنګه چی کفرمعصیت دی اونه هرمعصیت کفردی. اوقرآن اواخبارپه دی سره ناطق دی اوهم متواتراوهم متواهد داحکامو دعقل.
اما کتاب: قوله تعالی عزّوجلّ: وَالْمُوْ مِنُونَ کُلَّ آمَنَ بِاالله وَمَلآئَکتِهِ وَکُتُبِهِ وَرُسُلِهِ. وویل په اما ایمان راوړی اودعمل یی ندی ویلی. اوبل ځای فرمایی: قوله تعالی: قُولُوآ آمَنَآ بِاالله وَمَا اُنزِلَ اِلَینَا وَمَااُنزِلَ اِلی اِبرآهیمَ. اودعمل یادون یی ونکړ.
اوبل ځای فرمایی: رَبَّنَآ اِنَّنَآ سَمِعنَآ مُنَادیاً یُنَادِی لِلاِیمانِ اَن آمِنُوا بِرَبَّکُم. اودعمل یاد یی ونکړ.

اوجبرئیل علیه السلام وپوښتل له رسول علیه الصلوة والسلام څخه چی: مَا الاِیمان؟ ایمان څه دی؟ وویل: اَن تُوٗ مِن بَااللهِ. هغه چی په خدای عزّوجلّ ایمان ولری اودعمل یادون یی ونکړ. او وویل: مَاالاِسلاَم؟ اسلام څه دی؟ وویل: غاړ ایښول دی لمانځه، روژی، زکوة اوحج ته اوهغه څه چی دی ته ورته وی. نه ګوری چی له ایمان څه بیل وپوښتل اوله شریعته بیل.

اورسول وویل علیه الصلوة والسلام،معاذبن جبل ته چی: یا معاذ! دلمانځه ړغ وکړه خلکو ته چی ټول په اخلاص سره ووایی: لَا اِلهَ الاَّالله. چی جنت پری واجب شی. اورسول علیه الصلوة او السلام په خطبه کی وویل: هرڅوک چی ووایی: لا الهَ الّا الله محمّد رسول الله. جنت هغه ته واجب کیږی.

نه وینی: چی رسول علیه الصلوة ولسلام دشریعت داحکاموپه هکله وفرمایل:که یوسړی مړ شی اولمونځ اوروژه اویاحج پری پاتهوی، له مرګه وروسته ورته حج وکړی دده لپاره. اودهرلمانځه دوه منه غنم ورکړی. اودهری ورځی دروژی د میاشتی دوه منه غنم ورکړی دهغه په ځای. ولی که کافرمړ شی اوددنیا ټول مال دهغی لپاره ورکړل شی، دهیڅ شی په ځای نه کښینی.

پس پوه شوچی عمل له ایمان څخه ندی. ایمان بیل دی اوطاعت بیل. که ایمان طاعت وای ، نو څه به په ژوندانه اوڅه به هم وروسته له ژوندڅخه ترسره کیدلای شوای. نه ګوری: چی هرپیغمبرلره بیل شریعت اوایمان یو دی. ولی په شریعت سره مختلف و. پس پوه شوچی عمل له ایمان څخه ندی.

ولی روا نده چی دیوه ایمان ډیراودبل لږ وګڼی! اونه ګوری چی ایمان پردوام دی اوعمل پردوام ندی. که یوسړی لمونځ مخکی له وخت څخه وکړی رواندی اوروژه مخکی دروژی دمیاشتی روانده. اوکه کافرټول طاعتونه وکړی مخکی له ایمان څخه هغه به مومن نشی.ځکه چی ایمان مخکی له شرایعو څخه دی. ولی که ماشوم ترڅو ونه رسیږی، اولیونی ترڅو هوښیارنشی او ویده ترڅو ویښ نشی، په دوی لمونځ نشته ولی مومن دی.

پس پوه شولو چی: عمل له ایمان څخه ندی، اوکه کافرپه مزبله(چټلیو) کی ایمان راوړی روا ده، ولی که لمونځ وکړی روانده. نه وینی: چی جنبه یا حایضه ښځه لمونځ رواندی.څه وایی چی مومنه ده یاکافره؟که کافرجنب یا حایضه ایمان راوړی رواده. ولی که په همدی حال کی لمونځ وکړی روانده. اوهم څه وایی: مومنان په جنت کی مومن دی اوکه نه؟اوکه مومن وی په ځینو اویا په ټولو مومن وی؟ځکه چی بهشت دعمل ځای ندی، په بهشت کی له بنده څخه ټول اعمال اخیستل کیږی، نه لمونځ شته،نه روژه،نه فرایض اونه سنت. پس که عمل له ایمان څخه وای؟ باید په جنت کی هم دااعمال وای.

پس درسته شوه چی : عمل له ایمان څخه ندی. نه وینی: چی دفرعون ساحرانو ایمان راوړاوهیڅ یی هم ونکړل ترڅووژل شول.ددوی هغه ایمان ایمان و. اوحق تعالی وویل: وَمَن کَفَرَ بِالاِیمانِ فَقَد حَبِطَ عَمَلهُ. هرڅوک چی په ایمان کافرشی اعمال یی حبطه کیږی. همدومره بس دی هوښیارلره.

## دوه څلوېښتمه مسئله

داده: چی دانبیاو اومومنانو او صالحانو اوعامیان ایمان یوشان دی او دجبرئیل علیه السلام هم همغه دی. اوهرڅوک چی وایی ایمان په کردارسره د نیکوکارانو له ایمان څخه لږی دی هغه هواداره دی. حق تعالی وویل: شَهِدَ اللهُ اَنّهُ لااِلهَ اِلّاهُو. الایه.

په دی آیت کی فرشتګانی مومنان دی، اوفرشتګانی یی افضل ونیولی په کردارسره. ځکه چی ایمان دټول یوشان دی. پس حق تعالی وفرمایل رسول الله ته صلی الله علیه وسلم چی : خلک په ټول ایمان سره بوله یا بی ایمانه. ځکه چی ایمان

دادی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: من قال لا اله الاالله خالصا مُخلصا بِالقلبِ دخلَ الجنَّة. هرڅوک چی لااله الاالله خالصا اومخلصا ووایی په جنت کی به وی.

اورسول الله علیه الصلوة او السلام لس کاله په مکه کی خلک دعوت کړل، که څوک له دوی څخه مړ شوی. څه وایی چی دبشپړ ایمان سره مړشو اوکه دنابشپړ؟ که دبشپړ ایمان سره تللی وی، ټول یوشان دی. اوکه دنیمګړی ایمان سره تللی وی، اوکه څوک بشپړ ایمان ونلری هغه دوزخ ته ځی. پس رسول الله صلی الله علیه وسلم خلک په ایمان وبلل. دخپل ایمان سره یی وبلل یا یی پرته له خپله ایمانه وګڼل.؟

هرڅوک چی داسی وایی: ایمان می راوړی په هغی چی پیغمبراوجبرئیل اومیکائیل اونورو فرشتو راوړی. قوله تعالی: فَاِن آمَنُو بِمِثلِ مَا آمَنتُم بهِ فَقَدآهتَوا. پس هرڅوک چی ووایی: هغه څه چی جبرئیل راوړل محمّد ته له خدایه، هغه ریښتیا دی اوزه پری ایمان لرم؟ هرڅه که هغه کس زانی وی اومیخور اوخونی، دده ایمان هماغه دی اودپیغمبرانو ایمان هماغه شاندی.

پس همدومره بس ده هوښیارلره.